## بسم الله الرحمن الرحيم

# روژه او د اسمان او جنت دروازې!

## (ژباړه)

له ابوهریره رضی الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي:

**«إِذَا دَخَلَ شَهْرُ رَمَضَانَ فُتِّحَتْ أَبْوَابُ السَّمَاءِ، وَغُلِّقَتْ أَبْوَابُ جَهَنَّمَ، وَسُلْسِلَتِ الشَّيَاطِينُ»** (سنن ابن ماجه)

*ژباړه: کله چې د رمضان میاشت را ورسېږي، د اسمان دراوزې پرانیستل کېږي، د دوزخ دروازې بندېږي او شیطانان په ځنځیرونو تړل کېږي.*

په دغه حدیث شریف کې هیله او د هغه رحمت احساس پروت دی، چې الله تعالی یې پر خپلو بنده‌ګانو کوي. رسول الله صلی الله علیه وسلم موږ له هغه خیر او سخاوت څخه خبروي، چې دغه مبارکه میاشت یې زموږ لپاره لري؛ د جنت دروازې زموږ پر مخ پرانیزي، ترڅو زموږ دعاوې قبولې شي او عملونه مو زیات شي. پوهېږو چې دغه میاشت له نورو میاشتو سره توپیر لري؛ ځکه په دې کې نېک عملونه د نورو میاشتو او د کال د پاتې ورځو په پرتله لس چنده وي او په دې توګه له موږ روژه‌نیوونکو څخه غواړي، چې په رمضان میاشت کې خپل نېک عملونه څو چنده کړو، چې ثواب یې ډېر او څو برابره دی. د نېکو عملونو د کموالي لپاره باید کمزوري، ناتواني، لوړه او تنده پلمه نه کړو، ځکه دا فرصت په کال کې یوازې یو ځل راځي.

حدیث شریف د یوه بل مهم مطلب یادونه هم کوي او هغه دا چې الله تعالی په دې میاشت کې د دوزخ دروازې بندوي. نو هر څوک چې د رمضان میاشت روژه ونیسي، قیام وکړي او په هر کار کې د الله تعالی اوامرو او نواهیو ته ژمن پاتې شي، نو هغه کس به دوزخ ته داخل نشي.

د حدیث شریف په وروستۍ برخه کې راغلي، چې الله تعالی په دې مبارکه میاشت کې شیطانان په ځنځیرونو تړلي دي. پر همدې اساس د هغه چا لپاره چې ټمبلي کوي او وایي چې شیطان پرې غالب شوی او نفس یې کمزوری دی، دا دلیل نشي کېدلی. هر څوک باید له الله تعالی سره پخپل نفس او عمل کې صادق وي او له الله تعالی څخه باید سرغړونه ونه کړي، مګر دا چې وښویږي او تېروتنه وکړي؛ ځکه شیطان نشته دی چې وسوسه ور واچوي او ګمراه یې کړي. هر څوک چې د ګناه عادت لري، په دې میاشت کې باید چې د توبې قبلولو او مغفرت میاشت ده، د الله تعالی په لوري ور وګرځي او د الله په دربار کې توبه وکړي! خو هغه څوک

چې په قصـدي توګه له الله تعالی څخه سـرغړونه کوي، دغه میاشـت ټول هغه منافقین چې ګومان کوي خلک ورڅخه خبر نه دي، رسوا کوي؛ ځکه الله تعالی خبر دی او د هغه عملونه او کړنې به ښکاره کړي.

موږ بـایـد پـه دې بـاوري وو، چې اللـه تعالی د خپلو بنده‌ګانو په پرتله خبر او مهربانه دی او د هغو کســانو توبه قبلوي چې خپلې تېروتنې ته متوجه شي او توبه وکړي؛ حتی له دې مبارکې میاشتې وروسته به یې هم په چارو کې مرسته وکړي، ترڅو پر صراط المستقیم باندې خپل تګ ته دوام ورکړي.

یوازې له الله سـبحانه وتعالی څخه غواړو چې زموږ ګناهونه وبښــي، نېکۍ مو څو برابره کړي، زموږ عملونه قبول کړي او د ځان لپاره یې خالص کړي! همدارنګه له الله تعالی غواړو چې هر هغه منافق افشـــا کړي، چې په موږ کې دی او همداراز ټولو ګمراه شویو خلکو ته هدایت وکړي! اللهم آمین!

**لیکوال: د. ماهر صالح (رحمه الله)**

**ژباړن: صهیب منصور**